مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاهنواز باقر

۲۰۲۵/۰۸/۱۷

# ځوک چې له وني تبر جوړ کړي

## بیا پرې ونه وهي

سوله غوښتونکي خلق مړ اور ته لمنه وهي
ځوک چې له وني تبر جوړ کړي بیا پرې ونه وهي

پښتنو! ستاسو په سرونو تجارت روان دی
چې مشران مو شملې سر ته له کفنه وهي

له ډېره درده زهٔ ځادر په خولهٔ کښې کلک ونیسم
یوه جینۍ په زنه خال ځان ته په ستنه وهي

خدایه! تیرا نه جنت جوړ کړې، پکښې وچ کاندې بنګ
چې د چیلم نه پښتون کش جګ کړي مېرمنه وهي

موږ د تاریخ په بلا تل روایتونه وژنو
د خپل نیکهٔ په امسا بیا یو ځوک برستنه وهي

ستا د بیلتون په اذیت ولې ځوک نهٔ دي قایل؟
په تا پسې سر او تندی باقر تر ننه وهي

شاهنواز باقر


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ